# د اوسني پښتو نثر تاريخي سوابق

د تاريخ مختلفي دورې او د انسانانو اجتماعي او سياسي اوضاع ټوله پر ادب اوژبه باندي اغېزې کوي او د تاريخي ودي او بشپړتيا په لړ کښي ژبه او ادب دواړه وده او اوښتنه مومي، نو د ادب تاريخ د هري ټولني د عمومي تاريخ يو خورا ستر ټوک دی او کله چي د يوې دورې په تاريخ کښي څېړنه او پلټنه کيږي د ادب تاريخ ددې څېړني لپاره خورا ګټوره موضوع ده.

زموږ ملي تاريخ هم يوازي د رجالو په بديو او ماتو ا ويا لوړو ځوړو کېدلو پوري تړلي پاتي نه دي، او بايد تل دخلکو د تحولاتو اوافکارو او وګړنيو تخليقاتو په رڼا کښي مطالعه سي، او ددې کار لپاره د پښتو ادب هم ښه د تحقيق وسيله کېداي سي.

په دې مرکه کښي زه دپښتو نثر ته په تاريخي لحاظ ګورم او د نشو ونما تاريخي مراحل ئې لنډ لنډ بيانوم : تر هغه ځايه چي ماته په تاريخي سند سره معلومه ده، دپښتو نثر پخپله پخوانۍ دوره کښي، لکه د دری

ژبي نثر خورا ساده او روان اوخوږ او بې تکلفه ؤ، چي له دغه نثر څخه فقط د سلیمان ماکو د تذکره الاولیاء یو څوپاڼي پاته دي، چي ما دپښتانه شعراء په لومړی ټوک کښي ۳۳ کاله پخوا خپرې کړي وې او ددغه څو پاڼو له نثره څخه موږ د پښتو ژبي د لیکني ډول او سبک اته سوه کاله تر اوس دمخه تاکلای سو.

لکه په عربي او دری ژبو کښي چي یوه خاصه د نثر لیکني دوره د "فني نثر" په نامه موجوده ده او په دغو دورو کښي د دواړو ژبو نثر مصنوع او مسجع سویدی دغسي هم دپښتو ژبي د روښانیانوپه نثر کښي د متصنع نثر اثرونه ښکاره سویدي او دا د یوه ادبي جریان اثر ؤ چي د عربي او دری ژبي د نژدېوالي په سبب پر پښتو سویدی چي دغه نژدېوالی هم د تاریخي عواملو تر سیوري لاندي پیدا سوی ؤ. ځکه چي داسلامي فتوحاتو سره عربي ژبه دې سیمي ته را رسېدلې اوهم دری ژبه ددغه ځای په خلکو او دربارو کښي روزلې سوې وه، اودپښتو سره نژدې وه.

تر دې دورې وروسته موږ گورو، چي په پښتو نثر کښي بیرته د رجوع دوره شروع کیږي، یعني لیکوال د روښانیانوله ناوړه تقلیده لاس اخلي، اوهغه متصنع فني نثر ورو ورو متروک کیږي، اوخوشحال خان خټک پخپلو ادبي تخلیقاتو کښي دې نقطې ته ملتفت کېږي، چي په پښتونثر کښي هم لکه نظم یوتحول راولي. په دې کار خوشحال خان لاس پوري کوي اوخپل مشهور کتابونه په داسي ډول لیکي، چي تسجع پرېږدي او بیرته نثر هغي سادگۍ او روانۍ ته ور اړوي، لکه د سلیمان ماکو په عصر کښي چي ؤ. او دا ځکه کوي چي اوس هغه عوامل په پښتني اجتماع کښي له منځه وتلي وه، چي دپیر روښان اودده د پیروانو مسجع اومصنوع ناوړه نثر ئې پیدا کړي ؤ. د خوشحال خان

په کورنۍ کښي گوهر خان دده زوي خپل کتاب "قلب السير" هم په داسي نثر ليکلی دی چي دخپل پلار، رجوعي اقدام ئې وقديم نثر ته تعقيب کړيدی او بيا د افضل خان د اشرف خان دزوي "تاريخ مرصع" ددې اقدام خورا ښه نمونه ده.

د تاريخ مرصع دليکني په وخت کښي د کندهار په پښتنو کښي د حاجي ميرويس خان سياسي او د ملي آزادۍ حرکت شروع سوي ؤ، او داسي ښکاري چي د خوشحال خان د کورنۍ ادبي حرکت د پښتو نثر د اصلاح اوسمون لپاره په ټولو پښتنو کښي مقبوليت موندلی ؤ، ځکه چي د ميرويس خان د زوي شاه حسين په دربار او دزاړه کندهار د نارنج په ماڼۍ کښي دده د دربار سرمنشي محمد هوتک پخپله پټه خزانه کښي د پښتو نثر ته د ختکو تر دورې زياته ښکلا وربخښلې ده، يعني د خوشحال خان د کورنۍ په نثر کښي جمله بندي او ترکيبونه او د لغاتو استعمال ډير د فارسي يا د عربي تر اثر لاندي ؤ، مگر محمد هوتک په پټه خزانه کښي د نثر د اصلاح لپاره يو بل قدم واخيست. ده کوښښ وکی چي جملې اوترکيبونه د پښتو رنگ ولري، اوځاي ځاي د فارسي اوعربي کلماتو په مقابل کښي پښتو لغاتونه اوتعبيرونه هم استعمال سي.

تردې زمانې را وروسته چي په احمدشاهي دوره کښي کوم نثر په کندهار کښي پيرمحمد کاکړ يا د احمدشاهي فتاوی ليکوالو کښلی دی، هغه هم د خوشحال خان دکورنۍ اوبيا د محمد هوتک اصلاحي اقدام تر اثر لاندي ښکاري اوسړيويني چي د پښتو نثر ورو ورو د دری او عربي له تقليد څخه آزادېږئ، اوخه نا خه د پښتو خپل رنگ مومي.

د ۱۳۰۰ ه کال په حدودو کښي زموږ د پښتنو نثر د زيات سمون او اصلاح لپاره نوي هڅي وينو، چي ددې هڅي په سر کښي د پېښور منشي احمدجان دريږی. دې سړی په پښتو ادب کښي کوم فکري

تحول نه دی راوستی او دده آثارو کښي کومه داسي ذخيره نه ښکاري چي هغه دي فکر او معنوي ارزښت ولري، دی د انگريزانو دپښتو معلم وؤ، او د استعمار په کړی کښي نښتی وؤ مگر د نثر ظاهري شکل په اړولو او دپښتو محاورې ته په را نژدې کولو کښي ئې غښتلی لاس درلود. او داسي آثار ئې کښلي دي چي هغه د پښتو نثر ښه کتابونه گڼل کيږي لکه د قصه خواني گپ – گنج پښتو _ تاريخ افغانستان _ دسلطان محمود تاريخ _ هغه دغه.

د منشي احمد جان نثر ساده ، خوږ، روان او تر ډېره حده پر محاوره برابر دی، او هم دغه مکتب دی چي نثر ئې تراوسه را رسيږي. نو که موږ د اوسني دورې نثر د شلم قرن له سره را شروع کړو، بيا به هم منشي احمدجان ددې سلسلې په سر کښي وي. که د منشي احمدجان په آثارو کښي فکري ارزښت هم د ظاهري سبک سره برابر موجود واي نو به يقيناً دده ادبي تخليقات د يوه مبتکر او فکور ليکوال په ډول منل کېداي.

مگر اوس يوازي دده د نثر ليکلو ظاهري سبک اهميت مومي.

دژبود ادب په تاريخ کښي ډېر دغسي خلک راځي چي دوي د فکر کومه پانگه نه لري، خو پر الفاظو دوني مقتدر وي ، چي حتماً د ادب په تاريخ کښي ځانته بيل مقام مومي.

په همدغه نظر موږ د مولوي احمد جان نثر ته لاندي خصائص منلای سواي :

۱. دی کوښښ کوي چي د پښتو د نثر ليکلوژبه د خلکو محاورې او عامي لهجې ته را نژدې او د ليک او وينا تر منځ موافقت راولي.

۲. د دری اوعربي ژبي مستعمل او پېژندل سوي کلمات او لغات له خپله نثره څخه ارادتاً نه باسي، مگر د پښتو تعبيرونه او د اداء کولو

خاص خاص قالبونه هم نه هېروي، نو له دې امله يـو معتـدل او د ذوق خاوند ليکوال ګنل کيږي، مثلاً : په کوم ځاي کښـي چـي د جنګ مشتر که پښتو او دری کلمه استعمالبدای سي، هلتـه هنـدی جګړه نه راولي، اما په کوم ځاي کښي چي دغي کلمې د پښتـو پـه محاورو کښي ځاي نيولی او د استعمال حق ئې موندلی دی هلتـه نوله دې کلمې د استعمال سره کوم تعصب نه ښکاره کوي.

۳. منشي احمد جـان پخپـل نثـر کښـي اوږدې جملـې نـه راوړي، او داسي کار نه کوي چي دځـو جملـو خبـر د آرخيرنـی جملې په پاي کښي راوړي بلکي هره جمله ئې خپل خبـر لـري او دا د پښتو د اصلي بنسټ سره سم کار دی.

۴. د منشي احمد جان د نثر يوه بله ښېګڼه داده : چي دده د کتـاب په ويلو د اعلی ادبی ذوق خاوند هم نه ستړی کيږي او که ئې يـو د ابتدائی سواد خاوند هم لـولي، پـه فهمولـو کښـي ئـې مشـکل نـه ورپېښږي، نو له دې امله ده ته يومعتـدل او د ذوق خاونـد ليکـوال ويلاي سو.(۱)

(۱) وږمه مجله، ۱۳۵۳ کال، ۳ يمه ګنه، ۱ ـ ۴ مخونه.